شهادت

وهمچنان شمارا امت وسطي ساختيم
تابرمردم گواه باشيد وپيامبر(ص) برشماگواه باشد

٤ صفحه

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شماره مسلسل (٤٠٥) سال چهاردهم ،شماره (١٠١) يكشنبه (٣)قوس ١٣٧٠ هـش- (١٨)جمادي الاول ١٤١٢ هـ ق- (٢٤)نومبر ١٩٩١م

الهي لارښوونې

لوي خداي جل جلاله فرمايي :

اي محمده (ص)! ورته ووايه ! كه تاسي له خداي سره مينه لري نوزماپيروي وكړي ،نوخداي (ج) به تاسي خپل دوستان وګرځوي اوګناهونه به موو بښي .

ال عمران ٣١ آيت

په ننګرهاركى ددښمن يوه توطيه شنډه شوه

ننګرهار - دلرم ٢٥ :

دننګرهار ولايت دشرخيلو ،لسوالي نومياليو قوماندانانو ، اخترمحمد شرافت ، سازنور، مومن خان ، داكتر ګلوجان ، ننامګل اوشمالي دميديا په حواله خبر راكړي چي دروان كال دلرم دمياشتي په ٢٥ مه نيټه دكمونست رژيم دخادشبكي يوه لويه توطيه چي دمجاهدينو ترمنځ ني دبي باوري په باب جوړه كړي وه په بشپړه توګه شنډه كړه .

خبرځاي ليكي : دمجاهدينو ددي بريالي پلان په نتيجه كي دتوطيه ګروځخه ١. كسه خادستان چي دمجاهدينو په جاموكي په فعاليت بوخت وو اودجلال آباد دخادشبكي له رئيس ملتان سره ئي رابطه درلوده له ١٦ ساعتي پتسل بمونو اوپوزيات شمير افغانيو سره بالفعل نيول شوي اودخادستانو مشر داكترصديق له ٢. كسو خادستانوسره سرحد ته تبتيدلي دي .

دمجاهدينو يوقوماندان شمالي وائي چي دخادنيول شوي غړي ګلاجان ، سيدرحيم ، محمدګل ، هاشم ، سيدامیرجان، شاغاسي دتحقيقاتوپه دوران كي داغرګنده كړي چي ددي دمجاهدينو دبي ، ايم ٤١ ددستګاه په له مينځه وړلو سره عوښتل چي دمجاهدينو ترمنځ بي باوري رامينځ ته كړي اوپدي ني هم اعتراف كړي چي كمونست رژيم دهري مياشتي په اوږدوكي داكترصديق ته ٧ لكه افغاني اودخادشبكي نوروغړوته پوپولك افغاني ددي لپاره وركولي ترڅودمجاهدينومشران اودفترونه دبونو دچاودېدو پواسطه له مينځه يوسي .

ماسكواوواشنګټن په دي توافق كړي چي په افغانستان كي دغربي مشربواوكمونستانوګډه ائتلافي جبهه جوړه كړي

زمونږنظردادي چي رهبران دي له انتخاباتوپرته دجمهوررئيس اوصدراعظم كيدلو شوق نه كوي

نن دآذربائيجان دمسلمانانوهيئت ماته وويل چي موږبه خپله آزادي ترلاسوكوواوددي درس مو له تاسي نه زده كړي دي

دجهادپه تاريخ كي روسانودومره زياتي وسلي دكابل رژيم ته نه وي وركړي لكه دااوس اوس چي يي ورته ليږي

٣مخ

هشت نفر افراد رژيم بشمول يك لومري بريدمن در كابل اسير ګرديدند

درصفحه (٤)

كه امريكاپرليبياحمله وكړي ، نوپه ټوله نړي كي به دامريكا پراهدافو حملي وشي

احمدجبرائيل

بيت المقدس - دليندي ١ نيټه :

دپان امريكن په يوه الوتكه كي دبم ايښودني په پلمه په ليبيا باندي دامريكا دحملي په ځواب كي به په ټوله نړي كي دامريكا پراهدافو حملي وشي .

دفلسطين دآزادي دجبهي يوه لارښوداحمد جبريل ددغه مطلب دڅرګندولو په ترڅ كي خبريالانو ته وويل موږبه هغه وخت چي په عراق باندي حمله وشوه څه لاس وهنه ونه كړه خودا ځل به موږ كراركښينو اودامريكا دحملي تماشا به ونه كړو .

ده زياته كړه كه چيري په ليبيا باندي هرډول حمله وشي موږبه هم دامريكا پرګټوحمله وكړو .

مجاهدين قهرمان ولايت هرات سه پوسته رژيم رافتح نمودند

خبرګزاري ميديا به نقل قول از مجاهدين جبهات شهيد افضلي ازولايت هرات خبرميدهد كه مجاهدين بتاريخ ٢٣ر٨ر١٣٧٠ بالاي پوسته هاي مناطق ګذره وغوريان درشاهراه هرات اسلام قلعه عمليات پيروزمندانه ئي انجام دادند كه درنتيجه آن يك پوسته حفاظتي رژيم ملحد فتح يكتعداد عسكروملیشه هلاك وشش نفرديګررا بايك ميل ګرينوف ، چهارميل كلاشنكوف ، يك ميل صدتكه ويك اندازه مهمات به اسارت خود درآوردند .

هم چنان مجاهدين به تاريخ متذكره بالاي پوسته هاي حفاظتي ولسوالي زنده جان يك سلسله عمليات انجام دادند كه درنتيجه يك پوسته حفاظتي رژيم فتح چهارتن عسكروملیشه هلاك ، يكتعداد زخمي ويك ميل ماشيندار ګرينوف وچهارميل كلاشينكوف ويك اندازه مهمات بدست مجاهدين افتاد .

به همين ترتيب مجاهدين مومن آنولايت بتاريخ متذكره طي عمليات ديګري كه بالاي اطراف فرقه ١٧ هرات انجام دادند كه درنتيجه يك پوسته حفاظتي رژيم درمنطقه ګازرګاه شريف فتح ، پنج نفر عسكروملیشه هلاك ويكتعداد زخمي ومتباقي به فرار مجبورشدند راپورعلاوه ميكند : كه مجاهدين طي اين عمليات يك ميل راكت چهارميل كلاشينكوف ويك اندازه مهمات ومواد لوژيستكي راازقواي شكست خورده رژيم به غنيمت ګرفتند .

مطابق ګزارش : طي اين عمليات يك تن ازبرادران مجاهد ما جراحت برداشته است .

سرمقاله

ماسكو درتلاش تعميل سياست آشتي ملي

بعداز آنكه روسها به عواقب اشتباه لشكركشي شان به افغانستان پي بردند ، باعجله درصدد آن شدند تابافراهم نمودن شرايط مساعد در ماسكو وكابل ، اين اشتباه بزرګ تاريخي شان را جبيره نمايند. انتقال قدرت ازجناح افراطي به جناح اصلاح طلب حزب كمونيست روسيه به رهبري ګرباچوف ، اولين نشانه اي بود كه سياست تشدد وخفقان كرملين براي تسخير سرزمين ها ديګر پشتيباني درجامعه روسي نداشت ، همزمان بااين تحول درروسيه ، مقامات جديد ماسكو، اشغال نظامي افغانستان راعمل اشتباه خواندند ودراولين روزهاي بقدرت رسيدن، اقدام به اخراج بعضي قطعات خويش ازافغانستان نمودند، متعاقب آن زعامت جديد فيصله كرد تاباكناررفتن ببرك كه ازجمله مهره هاي اصلي دعوت كننده ارتش سرخ به افغانستان بود، زمينه بپاايستادن يك افغانستان ديموكراتيك رابه ياري كمونيست هاي افغاني مساعد سازد . زعامت ماسكو كه ازتحمل بارسنګين جنګ افغانستان به ستوه آمده بود، به اين ترتيب ميخواست قواي صدوپنجاه هزارنفري مستقردرافغانستان را ازشانه هاي خود سبك نمايد، براي وصول به اين هدف ، ببرك مهره كهنه كار روس كه رمزبقاي اووابسته به حضور قواي سرخ بود، ديګر شانش بقاي خودرا ازدست داده ومي بايست وي با چهره اي ديګري همراه با سازوبرنامه جديدي عوض مي شد. نجيب كه درسرسپردګي به دربار كرملين وآدمكشي درافغانستان ، شهره آفاق بود، بعداز ببرك مهره مناسبي بود تا نقشه هاي ماسكو رادرافغانستان پياده مي كرد .

آنچه كه نجيب براي مردم افغانستان بنام آشتي ملي به ارمغان آورد، همان نقشه اي بودكه ګرباچوف به نام پروسترويكا وګلاسنوست درروسيه ، روي دست ګرفته بود وكاپي آنرا بنام " آشتي ملي " به نجيب داد تاباپيشكش كردن آن به مخالفين ، توجه آنها رادراطاعت ازرژيم كمونست جلب نمايد. تلاش هاي شش ساله نجيب براي تعميل سياست آشتي ملي وتشكيل حكومت ائتلافي بهمكاري مجاهدين بجائي نرسيد . باوجوديكه روسها درجريان حكومت نجيب تمام قواي سرخ را ازافغانستان خارج نمودند تا اعتماد مردم نسبت به سياست آشتي ملي نجيب حاصل ګردد، ولي اين حيله ګري ها كوچكترين اثري درتغيراذهان مردم نداشت وجريان مقاومت ومخالفت عليه رژيم بيش ازپيش شدت اختيار نمود .

ناكامي كودتاي اخير جناح افراطي حزب كمونيست عليه ګرباچوف ، موجب ګرديد كه طشت رسوائي كمونيزم يكسره ازبام به زيرافتد وقبل ازآنكه ديګران ازبطلان وسخافت مكتب كمونيزم حرفي بزبان بياورند، منشي عمومي حزب كمونيست روسيه (ګرباچوف) وسايركمونيست هاي كاركشته ومجرب روسي ازخفت وبي مايګي كمونيزم حرف بزنند وتشكيلات حزب كمونيست را همراه با وابستګان آن به زباله دان تاريخ بريزند . همزمان با وداع نمودن كمونيست هاي روسي باكمونيزم ، مزدوران افغاني آنها نيز ازوابستګي به كمونيزم ابرازدادند ، نام حزب ديموكراتيك خلق را به حزب وطن تغيردادند، وبجاي نشرواشاعه تيوري هاي ماركس ولينن محيلانه به زمزمه دروغين مشاعراسلامي پرداختند تا مردم چنان فرض نمايندكه ګويا نجيب ورفقا بش مسلمان ګرديده است . مګر اين ترفند هاي استكباري هيچ دره رژيم رادوانكره وروزتا روزبرمشكلاتش افزوده رفت .

صفحه (٤)

دخلافت اسلامي ترعنوان لاندي كنفرانس وشو

دافغانستان فرهنګي مركز - چهار شنبه دلرم ٢٩ مه - شهادت :

دروان كال دلرم دمياشتي په ٢٩ مه نيټه دافغانستان فرهنګي مركز دنشاطاتودځانګي لخوا داسلامي خلافت ترعنوان لاندي يوعلمي اوفرهنګي كنفرانس جوړشو .

پدي كنفرانس كي چي ګڼ شمېراستادانو، پوهانو، محصلينو اومدرسوشاګردانوبرخه درلوده دقرآن عظيم الشان دځومباركو آياتونوپه تلاوت چي دقاري بشيراحمد لخوا قرائت شول پرانستل شو .

دكنفرانس په پيل كي دفرهنګي مركز مدير عبدالناصر، شفيق دكنفرانس برخوالو ته يه راغلاست وويل او خوښي ئي څرګنده كړه وروسته پوهنوال شيرعلم " حقمل " داتحاد اسلامي افغانستان رئيس التحرير اوددعوت جهاد پوهنتون دفقي ددېپارټمنت رئيس داسلامي خلافت په باب ارزښتناكه ويناوكړه اوبرخوال ئي خپلو مسئوليتونو ته متوجه كړل .

دكنفرانس په وروستي برخه كي دبرخوالو سوالونو ته ځواب ووركړشو اوكنفرانس دماښام څخه دمخه دمولانا زرور " صلاح " دفرهنګي مركز دتاليف اوترجمي دمسئول په دوعاسره پاي ته ورسيده .

بطروس غالي به حيث منشي عمومي ملل متحد تعين ګرديد

شوراي امنيت ملل متحد بطروس غالي معاون صدارت مصررا بحيث منشي عمومي آينده ملل متحد تعيين كرده است .

كانديداي غالي باپانزده راي موافق وچهارراي مستنكف تصويب شد . مجمع عمومي ملل متحد بايد اين مقرري رابه تصويب برساند اما آن عمل بيشتر جنبه تشريفاتي دارد .

غالي ګفت : اميد واراست تمام اعضاي ملل متحد درراه تحقق اهداف آن موسسه جهت بميان آمدن صلح وحل اختلافات ازطريق مذاكرات به اوكمك كنند .

منازعه عربها واسرائيل بطرس غالي را ازجهان علم وروزنامه نګاري به جهان سياست برد اوباانورسادات غرض صلح با اسرائيل به واشنګټن مسافرت كرد . او دوباركفيل وزارت خارجه مقررشد اومبتكرمعاهد ه كمپ دويد ومسئول بازګشت مصربه سازمان وحدت افريقا ، جنبش عدم انسلاك وكنفرانس اسلامي تلقي ميګردد .

بطروس غالي كه ٦٩ سال عمر دارد مسيحي مذهب وبازن يهودي ازدواج كرده است ومربوط يك خانواده ثروتمند جنوب مصرميباشد .

بطروس غالي درفرانسه تحصيل كرده وزبانهاي فرانسوي ، انګليسي وعربي را به رواني صحبت ميكند اودردانشګاه قاهره استاد حقوق بين الدول بود .

بعضي ازناظرين ګمان ميكنند بطروس غالي ازاين لحاظ انتخاب ګرديدكه اهل افريقاميباشد و افريقائي ها ميګفتند : فرصت آن فرارسيده كه يك افريقائي سرمنشي ملل متحد باشد تاكنون هيچ افريقائي اين وظيفه رانداشته است . تعين غالي به حيث منشي عمومي سبب خورسندي ممالك افريقايي، عربي واسرائيل شده است .

وي ششمين سرمنشي ملل متحد خواهدبود و ازجنوري سال ١٩٩٢ بعدازمتقاعدشدن دكوئيار وظيفه خودرا بحيث سرمنشي سازمان ملل متحد اشغال خواهدكرد .

په ګرديزكي د ملحدرژيم دوه پوستي فتحه شوي

له ګرديزڅخه يوه مخابروي پيغام كي ويل كيږي چي پرون دجمعي په ورځ د روان كال دليندي دمياشتي په لمړي نيټه دخالد فاروقي دجبهي اتلومجاهدينودګرديزپه جنوبي محاذكي دابراهيم خيلو دمعين اوافضل پرپوستوباندي بريالي عمليات ترسره كړل چي ددغوعملياتوپه ترځ كي دملحد رژيم دواړه پوستي فتحه اوعسكريي وتښتيدل

په ريوټ كي زياته شوي چي په دي عملياتوكي مجاهدينو ته دخداي (ج) په فضل څه تاوان نه دي رسيدلي.

دري تنه صهيونستان مړه اوڅوتنه نورټپيان شول

لبنان - دليندي لمړي نيټه :

دلبنان مسلمانوانقلابيانو تيره ورځ دلبنان په جنوب كي دجزين په نيول شوي سيمه كي دكفر خوني دښارګي سره نيږدې صهيونيستي رژيم ملشياوو دګزمي په لاره كي يوبم وچاودواوه .

دريپوټونو له مخي ددغه بم دچاودني له امله دګزمي ددغه واحدټول عسكرټپيان شول .

دلبنان داسلامي مقاومت غورځنګ په بيروت كي دبوي بيانيي په صادرولوسره ددغو عملياتو مسئوليت په غاړه اخستي اواعلان ئي وكرچي دبم په چاودنه كي دټپيانونه دري تنه مړه شول .

دلبنان داسلامي مقاومت غورځنګ په خپلي بيانيي كي ټينګار كړي چي له دي نه وروسته به دلبنان په جنوب كي دمسلمانو اوسېدونكو په خلاف دصهيونستانو جنايتونه بي ځوابه پاتي نه شي .

دهندحكومت بايد دهندي مسلمانانودفاع وكړي

عبدالله بخاري

نوي دهلي - دليندي لمړي نيټه :

دنوي دهلي دجامع جومات خطيب مولانا سيدعبدالله بخاري دهند حكومت ته خبر داري وركړ چي دهندي مسلمانانو دسراومال دفاع دي وكړي .

دډيلي دجامع جومات خطيب پرون دغرمي نه وروسته دهند دبنارس دښاردورستيو هلوګولو دانديښني په څرګند ولو سره ددغه هيواد مركزي حكومت ته خبرداري وركړچي دسرزوروهندوانو په مقابل كي دمسلمانانو دسراومال دساتني له پاره دي ضروري لاري چاري غوره كړي

ده وويل كه چيري دبنارس اوداترا پرديش په نوروښاروتوكي دمسلمانانو زړه دردونكي حالات كنترول نشي نوپه هغه صورت كي به په توموري صوبه كي دبهارتيا جانانا دحكومت پرځاي مركزي حكومت دناكرارئ مسئول وپيژندل شي- امام بخاري زياته كړه دبهارتيا جانتا سرزوري حكومت داتراپرديش دځايي پوليسو په ملګرتيا دمسلمانانو دځان اومال دتباه كولو په لټه كي دي .

دشوروي دعالي شوري يوغړي مسلمان شو

جنګ راولپنډي :

دشوروي اتحاد دعالي شوري اودشوروي څوانانو دشوري غړي نيكولاي تاكالايوف اسلام قبول كړ، دخبرونوله مخي نوموړي په مسكوكي دافغاني هيئت په لاسونوهغه وخت اسلام ومانه چي دعقرب په ٢٢ دپاكستان په سفارت كي دافغاني هيئت ددرناوي لپاره دشپي دوډي تياره شوي وه . دنيكولاي تاكالايوف اسلامي نوم انوردي .

نكته جديددراعلاميه مشترك هيئت مجاهدين وروسها ،رهائي اسراي روسي قبل ازجنوري ١٩٩٢است .

دانقلاب وروستي شیبي اوداتحادضرورت

رحماني

داخبره هرچانه څرګنده ده چې نن سبا زموږانقلاب دداسي حساسواوفیصله کوونکیوشیبو په درشل کي دي چې دیره دروکي اوپه اصطلاح له سترګولیدلي غلطي اواشتباه هم کیداي شي دیونرونکي مصیبت اوانجي دناکامي سبب شي.

دافغانستان دننه جهادي اونظامي وضعه سیاسي هلي خلي او بهرني سیاسي تغیرات اوډشرایطو بدلون داتول په دي ګواه اوشاهد دي چې زموږستونزه نوره ان شاءالله پاي ته رسیدونکي ده نوځکه له هري خوا نه ددوست اودښمن لاسونه رااوږده شوي دي ، پټ لاخه چې په ښکاره هرڅوک دیوڅه ګټي ترلاسه کولو اوډخپلو پالل شویولاسپوڅو دواکمنولو زیارباسي .

امریکا څو هفته دمخه دروسانو له ماتي وروسته د نړیوال مشرتابه دسرپرست په توګه زموږپه راتلونکي سرنوشت تاکلوکي ترهرچا ځان حقداراومستحق بولي ،ایران ، روسیه او ځیني نور بیا ځانته دګاوندیتوب حق محفوظ بولي اوهرڅوك خپل پلویان راوراندي کوي له همدي امله ؛ تولو هلي ځلي اوپه اوسني اصطلاح داسي سیاسي هڅي پیل کړي چې زموږله پوښتني پرته زموږپه برخلیك تاکلوموافقي کوي.

له تولونه دتشویش اوتعجب ورداده چې ځموږدپرديپوددي تولوشوموا هداقو،ناروا زیاروتو اوبیځایه مداخلو ، دحرګندتیا سره سره بیا هم پخپلو کي نه یوازي سره یوشوي نه یو، لاچي ګډا ،احد دریغ هم نه لرو ، چې دي کارپخپل وارزموږده راوپه ګتوپسي مجنوناتو ارخونوته دازمینه مساعده کړي چې زموږترمنځ نورهم داختلاف تیلي وزغلوي اوخپل شوم پلانونه راباندي وتپي.

داهرڅه په سترګوپنو اولس کوو چې په همدي وجه مو وروکي اوځوان ،تراوبنځه ،بیسراده اوسودالرونکي ، تنظیمي اوغیرتنظیمي هریوخپل وارډ اتحادچغي وهي ، اوپرته له دي بریالیتوب محال بولي ولي زموږمشرانوددي چغوته لبیك نه دي ویلي او داتحاد په لوري هیڅ پرمختګ نه دي کړي اونه یې کوي. داولي ؟

هیڅاپوښتنه موږ ته هم پیداکیږي اوملت ته هم او خواب یې داسي یوه معما ده چې تراوسه یې چاحل نه دي رااېستلي.

په هرصورت داتیرهځه به په تیرحساب کړو ، بیا به یې نه راځیږو دملامت غږیه په چا نه کوو اودابه نه وایو چې دادچا له لاسه وشول ، ځکه دامسئله لکه مخکي چې مووویل نه حل کیدونکي معماوه چې دا دیارلس ځوارلس کاله یې حل راوتلي نه دي . بحث پکي نه یوازي ګټه نه لري چې ستونزه لاپسي کرکیچنه کوي . مطلب داچې تیربه هیرته پریږدوکي اویوازي دا زموږدجهاد اوانقلاب دسیاسي اونظامي بعد اودنړیوالوتغیراتودسیاسي جمع اوتفریق ددي ورروستیو خوماشتو په نظرکي نیولو سره عمل وکړو او هڅه لاره اودریغ باید غوره نه کړو چې خداي په دي وروستیو شیبوکي راته هرڅه پردي شي اوس وضع داسي ده چې که زموږانقلاب له نظامي ارخه وځیږل شي اویا له سیاسي پلوه ،تویه داړو حالاتوکي دساعت عقربك وروستي شیبي شیي ،زموږدانقلاب دبریالیتوب ترانې اودنجیب د رژیم دختمیدو زنګونه وهي ، خو له دي سره سره متاسفانه چې زموږجهادي تنظیمونه داسي ګډ متبادل نظام نه لري چې فوراً دي هڅه خالیګاه پري ډکه شي ، چې دنجیب درژیم له ختمیدونه راپیداکیږي که له واقعیت نه لیري ولاړنه شو نو ویلاي شو چې زموږدونه یووالي اونشتت په صورت کي دښمن له منځه تلل به نه یوازي ګټه ونه لري لاچي بنایي دبل مصیبت اوکشکش سبب هم شي . تول همدي امله ترهرڅه روسبي زموږجهادي تنظیمونو اوپه خاص دول جهادي رهبرانوته لازمه ده چې له همدي اوس نه دداسي متبادل نظام دجوړیدو زیارباسي ، چې د نجیب درژیم دسقوط په صورت کي یې څنده په هیوادکي دچاروکنترول په لاس کي واخلي ، اوپروضع حاکم شي.

کله چې پرمتبادل نظام توافق راغي تاکلي دریغ غوره شو بیا نوکیداي شي په سیاسي اونظامي دوارو محاذونوکي سریع اوجتلك پرمختګ وکړو اوپه څنګ کي یې داسي لاري چاري اوهڅه میخانیکیت وڅیږو چې په ښه اواحسنه طریقه بالاه نظامي اویاغیرنظامي لاري له نجیب نه مجاهدینو ته دقدرت انتقال ترسره شي . په دي نکته کي کیداي شي له روسانو څخه هم دڅیږو په لرکي ضمانتونه واخستل شي.

پدي شکل کولاي شو چې داسلامي حکومت لپاره پري لاره اواره اود پردیو دمداخلي اولاسوهني مخه ونیسو دا کار که دتولو غتراووروجهادي تنظیمونو په سطحه وشي خو" غوري لاغوري" اوکه نه نو لږتیرلږه هغه جهادي ځواکونه څوچي د جهاد اومبارزي په میدان کي یې درونډ پیتي په اوږه دي. بې شمیره شهیدان یې ورکړي ، دسوچه اواصیل اسلامي حکومت دجوړیدو غوښتونکي دي، باید په اخلاص سره یوبل ته لاس ورکړي ، پرېږدي چې دمعمولي رنجش اوګیله مني په وجه دګتلي انقلاب میوه دبل چا خوله خوږه کړي. لویدیز وال اوپه سرکي یې امریکا دروسانو په ملاترتن همدا هڅه کوي چې زموږسوچه اواصیل اسلامي اوددوي په اصطلاح

دمسکوسفراونتایج ئي

استاد قریب الرحمن سعید — دوېمه برخه

راځي پخپله په ترون لرځه غوروکړو ځکه څه چې بین المللي خبري مؤسسو خپاره کړي ددي ترون دمندرجاتو سره توپیرلري .

هغه څه چې په لړي ماده کي تري یادونه شوي هغه په افغانستان کي دروسانو دیوځي تیري په هکله په خپله دروسانوځواتقبیح کول دي ، نو داخودهمغي ورځي وروسته چې روسي عساکردافغانستان څخه ووتل په خپله روسانو اعلان کړ لري کس چې په دي هکله کي په پوره جرأت سره اقرارکړ هغه دروس دخارجه چارو پخواني اواوسني وزیرشواردنادزي ؤ. ددي نه اخوا دروسانو او مجاهدینو په رسمي خبرو اتروکي چې څو خلي په اسلام آبادکي وشوي پخپله روسي هیئت په دي اقرار کړي چې په افغانستان کي مداخلت ستره غلطي وه . اوله غواړي چې دنجیب دراپرزولو له پاره بیاداسي غلطي تکرار کړي . دمجاهدینو اوروسي هیئت ترمنځ په آخري لیدنه کي چې په اسلام آباد کي داګست په ۱۲ مه وشوه دروسانو دبهرنیو چارو دوزارت معاون کزیروف په داګه اوڅرګندو الفاظوکي همداخبره وکړه اوبین المللي مطبوعاتو بیابیا تکرارهم کړه . په هغې غونډي کي دمجاهدینو دهیئت مشري دمولوي محمدنبي محمدي په غاړه وه اوممکن مولوي صاحب ددي خبري ریکارد په یادولري . په دي اساس داکومه نوي خبره نه وه چې تري دومره زیاته یادونه وشي . داقتدار دانتقال ضرورت چې دویمه ماده ئي بیانوي هغه موضوع ده چې د ۱۹۸۸ کال دژنیو دترون په وخت کي پري ټینګارکیده ، هغه وخت روسي پوځونو په افغانستان کي وجود درلود اوعملا دمجاهدینو په مقابل کي ولاړوو . داموضوع پراځي اوپراځي دپاکستان دوخت دصدراعظم محمدخان جونیجو دعجلي او دهغه دلندفکري په اساس وځنډول شوه اوکه نه روس په هغه وخت کي په افغانستان کي دیوموقت نظام له پاره چې دنجیب اودهغې دولي ځاي ونیسي تیارو . بل داچې داموضوع د ۱۹۹۱ کال دمي د ۲۰ په اعلامیه کي چې دملل متحد دلوي سکرتر پیرزدیکویارځوا دافغانستان دموضوع په خاطر اعلان شوه هم راغلي، په هغې اعلامیه کي داویل شوي چې دبین الافغاني خبرو اترو وروسته دي داسي یوموقت نظام جوړشي چې په افغانستان کي دراتلونکو انتخاباتو له پاره زمینه برابره کړي . لکه څنګه چې دملل متحد اعلامیه مخکي واټي چې دبین الافغاني خبرو اترو له پاره دي ترتولو لړي جنګ بندي وشي، په همدي توګه روسي مطبوعاتو اوخاصتا دمسکو رادیو په خپلو نشراتوکي دازیاته کړي چې دموقت اسلامي حکومت دراتللو له پاره په کاره ده چې مجاهدین خپل جنګ متوقف کړي . په همدي ترتیب یې دکابل دررژیم څخه غوښتني چې باید خپلي بمباري وځنډوي .

نوکه چیري دجنګ دبندیدو وروسته یوموقت نظام دکمونستانو ترڅنګ (پرته له نجیب څخه) مینځ ته راځي نوداموضوع خو روسان له څوکاله راپه دیخواله مختلفو لارو نه پیشنهادوي نوبه کارخوداوه چې داموضوع لایخوا ترغورلاندي راغلي واي . څوکه چیري مجاهدین په دي فکرکي وي چې روسان به له نجیب څخه لاس واخلي اوپه کابل کي به دیوه موقت نظام له پاره دمجاهدینو سره همکاري وکړي نوداخبره خودبره لري بریښي ځکه دروسانو اقتصادي تباهي دمجاهدینو په لاس شروع شوي . سره له دي چې روسان همدا اوس دسختو اقتصادي شرایطو سره مخ دي اودحرکت اسلامي دمشرحضرت آیت الله محسني له خولي څخه چې حتي په مسکوکي میلمنوته هم پیازاومیوه نه پیداکیږي . نو بیا څنګه هغوي دخپلي خولي مړي دکابل رژیم ته ورکوي دادفکرورخبره ده . آیا روسان به حاضر شي نجیب اودهغه دلګي یومخ خوشي کړي ؟ اوکه خوشي ئي کړي نوچیرته به ئي بسیاکړي ؟ فکر کوم خبره دابل لوري ته ده اوهغه داچې روسان غواړي دنجیب دوتلو له پاره داسي ابرومندانه لارپیداکړي لکه څنګه ئي چې دخپلو پوځونو دوتلو په وخت کي دژنیو دترون په خبر خپل ځان ته داوروبوزه کښنوده . همدااز روسان به وتوانیږي چې مجاهدین په دي قانع کړي چې دنجیب دلګي ته هم په خپل موقت نظام کي اوهم په راتلونکو انتخاباتوکي دبرخي ورکولو حق ورکړي . همدارازروسان ددي ترون له مخي کولي شي چې دځوك څخه دنجیب دبیلتون له پاره یوه قانوني لاراختیار کړي اودمجاهدینو هغه برم چې ګویا په نظامي توګه به نجیب اودهغه رژیم له منځه وړي ورمات کړي، همدا رازروسان ددي ترون له مخي خپل ځانته ددي برأت ورکولی شي چې هغوي په افغانستان کي له مداخلت وروسته په جنګ کي که کومه برخه اخستي هم ده نوبه ثاني حیثیت . څکه دکابل دررژیم دي دري کلن دوام اوبیا دمجاهدینو مسکوته ددادول ترونونو په خاطر ، خپله مسکوته یوځانګړي حیثیت ورکړي دي .

ښکاره ده چې ددي سترانقلاب په دوران کي اوبیا دروسي پوځونو برېند تیري اوبیاپه خپله دروسي واکدارانو دغلطي اقرارپخپله دروسانو اودکابل دررژیم ترمنځ د ۱۹۷۸ کال رابدیخواتول قراردادونه له منځه وړي . اوددي انقلاب په نتیجه کي چې کوم حکومت منځ ته راځي هغه به ددي تولو قراردادونو دمنسوخ کیدو اعلان کوي . دابو تاریخي حقیقت هم دي اویومنل شوي فارمول هم . څوکه چیري داسي یوانتقالي حکومت دروس اوامریکا په خوښه زموږ په ملت باندي څه ددي قراردادونو په واسطه یاڅه دملل متحد داعلامیو او فارمولونو په واسطه تحمیل شي چې هغه دخپلي بقا په خاطروغواړي دروسانو اوامریکا تباتو سره بنې اړیکي ولري نوبیابه څوك ددي تضمین وکړي چې هغه به دخپل رژیم دبقا په خاطر دروسانو تول هغه قراردادونه منی چې هغوي په دي تیرو ۱۳ کلونو کي دیوتیل شوي رژیم سره کړي دي . بیا داسي موقت حکومت چې عملا دوه کاله دځواك واګي په لاس کي ولري اوپه دي دوران کي ئي دخپلي پشتواني په خاطر پوره کارهم وېشلي وي ، که موټر ونه توانیدو یوموقت حکومت چې پواځي اوپراځي دیوه کال له پاره هغه هم په مشروط دول جوړشوي ؤ نه شو تېدېلولي ، که موتر دانتخاباتو پروسه ددي تولو تعهدونو اوسوګندونو سره سره بیاهم پرمخ نه شو بوتلاي نوځله چې دهمدي موقت نظام دمشرانو په څېر څوك دروس اوامریکا په ضمانت دحکومت واګي په لاسونو واخلي نودابه دیره ستغه وي چې هغي دي بیا هغه نظام پریږدي اوبادي انتخاباتو ته غاړه کښیږدي . هغه به کله المتوکل علي الله کیږي اوکله به وایي چې زه موقت نه یلکي مؤیدرئیس ددولت یم .

دبلي خواته هم روس اوهم امریکا داسلامي تنظیمونو په لاس دجوړشوي حکومت څخه پوره ویره لري نوکه چیري هغوي مطمئن شي چې په افغانستان کي دمسلمانو دلو په ځاي غرب ګرادلي حکومت په لاس راوړاي شي نودانتخاباتو دیروسي ملاتړبه کوي خوبرعکس ، هیڅکله به تړي انتخابات صورت ونه نیسي . همدا رازددي دوه کاله موقت حکومت په دوران کي به میشته کمونستانو سره هم دخلکو هغه کینه اواحساس ورك شي دکوم له پاره چې همدااوس وینه تویږي او هغه خلك به هم دغرب ګرادلو په لمن کي داسي ځانونه وپیچي چې دمسلمان اوکمونست تمیز به له منځه ولاړشي ، اوملت به دیوبل مصیبت سره لاس وګریوان شي .

په کارخوداوه چې دانتخاباتو مسئله لکه دیخوا په شان پخپله محدوده کي پاته شوي واي . اوبیا که چیري پدي هکله کومه پریکړه کیداي هم نودجهادي تنظیمونو په غونډو کي پري پریکړه شوي واي . دي هیئت ته په کارنه و چې په داسي یوې موضوع باندي چې په کي ترتولو جهادي تنظیمونو ځوا واك نه وي ورکړل شوي کومه پریکړه کړي واي .

دبندیانو موضوع لکه دیخوا په شان داجندا لمړي ټکي تشکیلول ، په دي اساس پریکړه شوي چې مجاهدین به دسولي په لورډقدم داښتولو په خاطر دروسي بندیانو . ٥ کسیزه ډله د۱۹۹۲ کال دجنوري په اوایلوکي مسکوته لیږي ، څومسکو به په افغانستان کي دلاس پوځي رژیم لول اکمالات بندوي . دلته هم دوه په زره پوري ټکي شته لمړي بندیان اودوهم داکمالاتو بندیز !

فکرکوم اکثره جهادي تنظیمونه دبندیانو څخه فارغ دي . یواځي یوڅه شمیرېي دحزب اسلامي سره شته خوهغه ددي معاهدي ارخ ته دي ، یوبندي چې هبئت غوښتل روسانو ته ئي وسپاري هغه هم په سعودي کم تم شو . ځکه هغه بوازیك مسلمان ؤ اوئه ئي غوښتل روسي ته بیرته ولاړشي . که څه هم هغه اوس له څبرسره سم دخپل پلارداطمینان وروسته ازبکستان ته ولاړ . نور څوك چې په دي هیئت کي و دجمعیت اسلامي پرته نه ددي جوګه دي چې بندیان دي ولري اوئه ئي دخوشي کولوکوم صلاحیت لري . په دي اساس داموضوع په دومره عجلي سره نه باید فیصله شوي واي همداراز دافغان ولس په زړګونوبچیان همدااوس په روسي زندانونوکي پراته دي دبوي باوري منبع له قوله چې دروسي سفارت په اسلام آباد کي پخپله په دي اقرارکړي چې هغوي نږدي لس زره افغان بچیان پخپلوزندانونوکي لري خوپه دي اعلامیه کي د هغوي خوشي کولو ته کومه خاصه اشاره نه ده شوي، برعکس روسانو دخپلو بندیانو دخوشي کولو په صورت کي وعده کړي چې دکابل په رژیم به وسله اونوراکمالات بندوي .

داکمالاتو دبندیز موضوع که بندیان خوشي شي اوکه نه ۱۹۹۲ کال دجنوري دمیاشتي دلمړي نیټي څخه وروسته عملي کیږي ، په هغه ترون کي چې داکتوبر په میاشت کي دروس اوامریکا دخارجه چارو دوزیرانو ځوا په مسکوکي امضاشو دواړو خواوپه دي پریکړه وکړه چې هغوي به په خپلو ارخونو لول پوځي وسایل بندوي . نه پوهیږو چې روسانو دمجاهدینو دهیئت دخوشحالولو په خاطر دااعلان کړي اوکه نورڅه هدف ئي هم تري درلوده خوبه هرصورت یواځي یوه میاشت ددسمبرترمنځ ده چې باید کومکونه ودرول شي ، اوبلکاره ده چې دروس اومجاهدینو ګډ کمیسیون هم ددسمبر دمیاشتي ترآخره پوري دبندیانو په اړوندخپل ګډه غونډه نه شي کولي . په دي اساس نه دبندیانو دخوشي کولو موضوع دتولوجهادي تنظیمونو دموافقي پرته کوم حقیقت پیداکولي شي اونه به روسان دي ته حاضرشي چې پرته له شرط دنجیب لاسونه وتړي اومجاهدینوته ئي حواله کړي .

همداراز په دي ترون کي روسانو وعده کړي چې دافغانستان دبیا آبادیدو په پروسه کي به ونډه اخلي، دافغانستان دبیا آبادیدو په پروسه کي خو د ۱۹۸۸ کال دژنیو دترون وروسته داپریشن سلام په پروژه کي روسانونږدي ٦ سوه میلیونه ډالره بسپنه کړي خوداپسپنه یې پوده چې افغانستان دروسانو داحمقانه تجاوز په واسطه وران ویجاړشوي نه مجاهدینو دروسانو داپیشنهاد په مکمله توګه مستردکړي اوبرعکس تري دجنګ تاوان غواړي . منطقا هم داخبره ذهن ته راځي کله چې روس دومره حماقت کړي چې بوهیواد دي تباه کړي ، دهغي یونیم میلیون خلك دي په پوره بې رحمانه توګه دتیغه تیرکړي، ٦ میلیونه دي هجرته مجبورکړي . څنګه په ساده توګه وایي چې موږ دبیا آبادیدو په پروژه کي حصه سهم اخلو . روسان باید دخپلو حماقتونو تاوان ورکړي . که دعراق دحکومت دحماقتونو تاوان ورکول کیږي نوولي دروسي دحکومت دحماقتونوتاوان ورنکړل شي . مجاهدین باید دي ته خوښ نه شي چې روسان به ددوي دبیا آبادیدو په پروژه کي برخه اخلي .

په کار خوداوه چې دمجاهدینو هیئت دتللو ترمخه پخپلومنځوکي په څه موادو توافق کړي واي اوبیا یې دمذاکراتو میزته قدم اخستي واي . ځکه هغه ترونو ته چې دتوروجهادي تنظیمونو په غیاب کي ترسره شوي هیڅ کله عملي بڼه نه شي اختیارولاي . دمجاهدینو صبربه نورهم روسان وارخطاکول څکه دروس داخلي بحران پخپله دي حدته رسیدلي چې روسانو به پوره امتیازات مجاهدینو ته ورکول . لکه څنګه چې آیت الله محسني وایي چې ماته دروسانو څینو باوري خلکو وویل چې لر څه ځانونه کلك کړي ممکن ډیرامتیازات واخلي ، اوس چې دروسانو سره دخبرو ددویم پړاوموضوع په نږدي راتلونکي کي تربحث لاندي ده باید ترتولو لمړي مجاهدین په خپلو منځوکي نه یواځي په موقت نظام بلکي دهغي په تولو ارخونو داقتدار په انتقال اودنجیب دګوندداتلونکي باندي پوره موافقي ته ورسیږي . ګیدریخ ونیسي اوداسلامي کانفرانس دتنظیم ددي پیشنهاد څخه چې داقتدار په انتقال کي به کومك وکړي پوره پوره ګټه پورته کړي .

دافغانستان اسلامي تنظیمونو څخه زموږ غوښتنه داده چې یوبل ته سرونه نږدي کړي ترخپله خپله خوښه دموقت نظام په هکله تصمیم ونیسي ترخود نورودمداخلي لارینده کړي .

جهان در آستانه تبارزابرقدرت جدیدی

وحدتیار — قسمت دوم

این کشور ازسال .۱۹۵ تاسال .۱۹۸ دربخش تکنالوژي ده بلیون دالرمصرف کرد وباکشورهاي مختلف تقریبا سي هزار معاهده تخنیکي امضاء کرد . سالانه یك مبلغ گزاف را درتحقیقات ساینسي وتخنیکي صرف مي کند،بیش ازدوصد مرکز تحقیقاتي درنقاط مختلف دنیا دراختیاردارد که درآن کارشناسان جاپاني مصروف تحقیقات علمي مي باشند .

یکي ازموانع که نمي گذارد این کشوربحیث یك نیروي بزرګ جهاني تبارزکند، نداشتن نیروي مجهز نظامي است . زیرا کشوریکه قواي نیرومندنظامي بویژه نیروهاي اتومي دراختیارنداشته باشد نمي تواند ابرقدرت دنیا شود درحالیکه جاپان ګذشته ازسلاح اتومي حتي سلاح عادي هم دراختیار ندارد .

زیرا بعدازجنګ دوم جهاني تمام پروګرام هاي جاپان بخاطر صلح وامن پي ریزي ګردیده واین مملکت به یك ایالت تجارتي محض مبدل شده است به همین دلیل رئیس جمهور اسبق امریکا نکسن درجایي اشاره کرده بودکه اقتصادنیرومندجاپان بانیروي نظامي چین اګرضم ګردد، دردسري براي غرب شده مي تواند . اکنون دیده شودکه جاپان نیرومند ازنګاه تجارت وصنایع ، بدون سازوبرګ نظامي مي تواند دنیارا تحت نفوذ خود قراردهد؟ یك مشکل جاپان اینست که اګردرشرایط کنوني باامریکا تصادم نماید مارکیت هاوبازاربزرګ تجارتي اوبه کساد مواجه مي ګردد ورروسیه واروپاي شرقي نمي توانند بجاي امریکا مارکیت وبازار هاي مفیدي براي این کشورثابت شوند .

آلمان همیشه درسیاست جهاني مطرح بوده وتلاش داشته است که بحیث یك نیروي بزرګ جهاني تبارزنماید، خصوصا اتحادهردوبخش شرقي وغربي این کشوراین چانس رادوبرابر نموده است . لاکن درشرایط کنوني مسایل وپرابلم هاي چند جلو راه آن قراردادکه نمي ګذاراین کشوربه این آرزوي خود نایل ګردد .بطورمثال آلمان غرب نسبت داشتن یك سیستم اقتصادي آزادخیلي ترقي نموده است درحالیکه آلمان شرق ازبین ویرګتا کمونیزم وضع اقتصادي بحراني دارد ، که ازبین رفتن این موانع تبازبه وقت وزمان دارد .

امروز وجودکثرت ساینسدانان دریك خطه رمز ترقي وصلاحیت پیشرفت همان خطه بشمارمیرود . هرکشوریکه درساحه ساینس وتکنالوژي پیشقدم باشد، صلاح وفلاح مادي اطراف آن مي چرخد . درشرایط کنوني جاپان پنج هزار ساینسدان درهرملیون نفر ازنفوسش دارد . درحالیکه درامریکا به سه هزارنفر ودرآلمان غرب به دونیم هزارنفر ودرآلمان شرق به دوهزارنفرمي رسد . ګویا بااتحاد هردو آلمان اکنون اینکشور ازچهارونیم هزارساینسدان في ملیون نفرنفوس برخوردارمي باشد . ناګفته نماند که آلمان نسبت بحراني بودن وضع اقتصادي دربخش شرقي این کشور دربودجه تحقیقات ساینسي وتکنالوژیکي خوداضافه نموده است . ګویا بدینوسیله مي خواهد اوضاع بحراني بخش شرقي راتاحدي بهترسازد .

ازنظرعسکري ونظامي آلمان یك کشورقوي ونیرومند محسوب مي شود، افواج این کشوردرقرون ګذشته ازامتحان جنګ هاي شدید عبور نموده اند . درپیمان ناتو نیز افواج آلمان بحیث یك اردوي نیرومند ، قوي ومنظم تصورمي ګردید . این کشور ازصنایع وسیع دفاعي نیز برخوردارمي باشد . درساختن جنګنده ها، کشتي هاي بحري، تانك وغیره مهارت کامل دارد . ګرچه رهبران این کشوربه مردم دنیا اطمینان میدهند که آنهاراه صلح وامن رادنبال خواهندکردولي تاریخ شاهداست که زماني آلمان تصمیم ګرفته که بحیث یك نیروي بزرګ تبارزکند دیګر تباري افواج وسازوبرګ نظامي فرصت زیاد آنهاراضایع نکرده است ودراسرع وقت توانسته اند بانیرومندترین کشوردنیا پنجه آزمائي نمایند .

امروز اوضاع سیاسي دنیا خیلي هادلچسپ به نظرمي آید، زیرا روسیه دیګر از پادرآمده وامریکا بحیث نیروي واحد جهاني چشمان خودرا بطرف حریف آینده خود دوخته است . دنیاي اسلام ، آلمان وجاپان باوجود داشتن مسایل وپرابلم هاي ګوناګون بحیث کاندیدهاي این میدان قلمداد مي ګردند .

فیلدمارشل منتګمري درکتاب مشهورش بنام " هستري آف وارفیر" دراخیرباب تاریخ جنګ هاي آسیائي مي نویسد که مردم منګولیاي قدیم ومردم کنوني جاپان شاهداین حقیقت اند که یکباردیګر از طرف شرق بهترین وشجاع ترین سپاهیان جنګي تبارزخواهند کرد مانباید مردم شرق رابه حقارت نګاه کنیم زیرا آنچه درګذشته صورت ګرفته دوباره نیزتکرارخواهدشد . ممکن است یکباردیګرنیرویي ازشرق سربلند کندکه غرب مجبورشود بااوپنجه آزمایي کند للذا ازهمین اکنون غرب باید بیدارشود وبخودآید. این سطور نویسنده درشرایط واوضاع کنوني نه تنها براي غرب بلکه براي مردمان شرق نیز حایزاهمیت بسزا باشد .

اګرپاکستان جنګ راآغازکند هندپاسخ مناسبي خواهدداد

چندراشیکر صدراعظم سابق هند میګوید : اګرپاکستان روي مسئله کشمیر جنګ را آغاز کند هند پاسخ مناسبي خواهد داد .

چندراشیکربه تبصره هاي دوراپتیل رئیس کمیسیون حقوق بشرپاکستان پاسخ میداد .

پتیل که یك قاضي سابقه پاکستان است ګفت : احتمال دارد موضوع کشمیر به یك جنګ دیګري بین هندوپاکستان منجرشود .

صدراعظم سابق هند یك سمینازدو روزه را روي بهبود بخشیدن بهروابط بین هند وپاکستان دردهلي جدید افتتاح کرد . سیاست مداران ، قضات ، ژورنالیستان و شخصیت هاي هردوکشور دراین سمینار اشتراك کرده اند .

ددوآبي دحوزي ناظم طالب العلم امان الله په شهادت ورسید .

مجاهد طالب العلم امان الله دحاجي حبیب الله زوي دپکتیا ولایت دسیدکرم ولسوالي دغرك د څنډبخیلو کلي اوسیدونکي اودطلبه دیني ددوآبي حوزي ناظم په شهادت ورسید.

وروو امان الله چې دافغانستان له لمړنو مهاجرینو څخه شمیرل کیږي دغوابي دکوډتا سره سم یې د خپلي ټولي کورني سره پاکستان ته هجرت وکړ اوددوآبي په کمپ کي میشته شو.

څرنګه چې نوموړي دپوره پوهي خاوندؤ نو دتنظیم طلبه دیني دمسؤلینو ځوا ورته ددوابي حوزي دناظمیت مسؤلیت ورپه غاړه شو ، ددي مسؤلیت تر څنګ په عملي ډګر کي دمجاهد ینو سره یوځاي دکمونستانو په ضد په وسلوال جهاد بوخت و د خپل جهاد په دوران کي دخوست دلوبي ولسوالي په فتحه کي بې په پوره ایمانداري ونډه درلوده په آخرکي دګردیزدسرتاسري عملیاتو له پیل څخه نوموړي قهرمان دمجاهدینو سره اوږه په اوږه سنګر ته روان و چې دروان کال دلړم دمیاشتي په لسمه نیټه دشهادت لوړمقام ته ورسید.

روح یې دي شاد وي.

نوم بدلول

مامورصاحب عبدالمداردعبدالغفار زوي دننګرهارولایت دکامي ولسوالي دشیرګرګلي اوسیدونکي چې اوس دحزب اسلامي دحضرت عمرفاروق (رض) په غندکي دماموریت دنده ترسره کوي خپل نوم په محمد یار بدل کړي دي

تبدیلي نام

خانوګل ولدحاجي عمرګل مسکونه ولایت لغمان مربوط مرکز متعلم صنف ۸ لیسه ستائي کمپ صوابي اسم خودرا به عبدالبصیرتبدیل نموده ازهمه دوستان خواهشمندیم که نامبرده‌را به اسم عبدالبصیرشناسید .

دورکي اعلان

دولي محمد دزوي شامحمود، د دولسم ټولګي څخه دفراغت شهادتنامه ورکه شویده ، که هرچا مېندلي وي هیله ده چې هغه ته یې وسپاري .

پته : دعوت اوجهاد پوهنتون دطب پوهنځي اداره

ماسکواوواشنگټن په دي توافق کړي چي په . . .

دجمعي مبارکه ورځ د ۱۳۷۰هـ ش کال دلیندي دمیاشتي په لومړي نیټه دامام محمد شیباني جامع جومات – نصرت مینه – شهادت :

دادي دشهادت ورځپاڼي ددرنولوستونکوپام دحزب اسلامي افغانستان دامیرمجاهدوروور حکمتیارهغي ارزښتناکي وینا ملن ته را اړوو چي په جهاد پوري اړوندومسائلو اوپیښو په باب یې دجمعي لمانځه ترخطبې مخکي لمونځ کوونکیو ته واوروله . وروورحکمتیار خپله ویناداسي پیل کړه :

الحمد لله نحمده ونستعینه ونستغفره ونومن به ونتوکل علیه ونعوذبالله من شرورانفسناومن سیئات اعمالنا من یهده الله فلامضل له ومن یضلله فلاهادي له فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم . بسم الله الرحمن الرحیم

وردالله الذین کفروابغیظهم لم ینالواخیرا وکفی الله المومنین القتال وکان الله قویا عزیزا وانزل الذین ظهروهم من اهل الکتاب من صیاصیهم وقذف في قلوبهم الرعب فریقاتقتلون وتأسرون فریقا واورثکم ارضهم ودیارهم واموالهم و ارضالم تطئوها وکان الله علي کل شیء قدیرا . صدق الله العظیم

زماوورونو ! زه به لومړي ددغومبارکو آیتونو لنډه ترجمه اودهغه دنزول دپس منظریه باب څوخبري عرض کوم بیا به انشاء الله دجهاد دځیني سیاسي ارخونو په هکله له تاسي سره خپل نظریات شریکوم .

داحزابو دجنګ په ارتباط چي دعربو دتاریخ لویه جګړه اودلومړي ځل لپاره دعربویه تاریخ کي لس دولس زره مسلح کسان دمختلفو قبائلو اوقومونو څخه راغونډشوي چي پرمدینې منوري باندي لویه حمله ترسره کړي اوداقوت چي سربېره دپیغمبر علیه السلام ترقیادت لاندي اوچت کړي اوداجاهلیت ددوران سیاسي نظام ترې په خطرکي دی ، وتکوي . دومره ستر پوځ کله هم دعربو اوبیا دمختلفو قبائلو په تاریخ کي کله هم جوړشوي نه ؤ .

پیامبر علیه السلام هم چي کله ګوري چي ددي دومره لوي سترځواك مخامخ مقابله ګرانه ده نوفیصله کوي چي دمدینې منوري له داخل نه ددي دښمن دحملي په وړاندي له مدینې نه دفاع وکړي . خندق ګیندلای کیږي او مدینه منوره محاصره کیږي . دامحاصره شل پنځه ویشت ورځي ادامه کوي .خوله شلو پنځه ویشتو ورځو محاصري نه وروسته یوه ورځ تنداو تیز باد داالوزي الله جل شانه خپلي غیبي لښکري دمجاهدینو مرستي ته را لیږي . ددښمن په زړه کي ویره اورعب اچوي . اودشپي شپي دهغوي هرڅه تارومارکوي . خیمي یې نړیږي ، آسونه اواوښان یې میږوي اوکاري او تیښتي . او سهارته چي صحابه راپورته کیږي نوګوري چي په میدان کي هیڅوك پاتي نه دي، دښمن ماتي خوړلي ، نامراد او خاصر بیرته ګرځیدلي .

په داسي حال کي چي داپوه ویره ستره اوسخته پیښه وه اوقرآن عظیم الشان فرماني چي په مدینې منوري کي داسي یو حالت ؤ، چي دځینو زړونه ستوني ته راوسیدلي وودویري ، خوف داضطراب په وجه منافقینو دتل په شان همداتبلیغات کول چي نوردرې پوځ مقابله ممکن نه ده دمدینې خلکو له امان غواري بیرته پلرني دین ته وګرځي (!) که غواري چي دا شخړي اوجګړي پاي ته ورسیږي نوخپل پلرني دین ته بیرته وګرځي اوپدي سنګرونوکي ددي دومره ستریوځ مخي ته ودریدل ممکن نه دي، سنګرپریږدي . الله جل وعلي شانه ددغي فتحي اویري په هکله چي دمومنانو په برخه شو . پداسي حال کي چي جنګ ندي واقع شوي دجنګ نه پرته الله جل شانه هغوي ته فتحه اویري ورکړ . فرماني چي : "وردالله الذین کفروا بغیظهم لم ینالوا خیرا " اوالله جل شانه کافران بیرته رد کړل له خپل غیظ ، خشم او غوسي سره . لم ینالوا خیرا، په هیڅ خیر برلاسي نه شول هیڅ خیریې ترلاس نه کړاي شو . نامراد اوخاصربیرته وګرځیدل . الله ردکړل (وکفي الله المومنین القتال) اوالله (ج) په جنګ جګړو اوقتال کي دمومنانو له پاره کافي شو اودایي عملا وښودله چي خداي دمومنانو له پاره په جنګ کي کفایت کوي وکفي الله المومنین القتال اوکافي شو الله جل شانه مؤمنانولره په جنګ اوقتال کي .

دغي ستري تاریخي پیښي داثابته کړه چي الله په جنګ کي هم مؤمنانو لره کافي اویس دي .

مؤمنان دي داګومان نه کوي چي دوي دجنګ په میدان کي یواځي دي ، دځمکي اوآسمانونومالك خداي له دوي سره دي اوددوي مرسته کوي " وکفي الله المؤمنین القتال وکان الله قویا عزیزا " اوالله قوي اوعزیزدي . غالب دي ، دهغه دارادي په وړاندي څوك نه شي ودریدلاي هغه چي کومه فیصله کړي ده دهغه (ج) مخي ته څوك نشي ودریداي . خداي قوي دي اوعزیز دي . دادي داحزابو جنګ داخبره ثابته کړه . دومره ستریوځ ته

نن چي روس له کوم برخلیك سره مخامخ دي دازموږدشهداؤدوینوانتقام دي

چاماتي ورکړه ، ولي دجنګ نه پرته هغوي ماتي وخوړه اودشکست سره مخامخ شول ، نامراد اوخاصربیرته وګرځول شول

" وانزل الذین ظهروهم من اهل الکتاب من صیاصیهم وقذف في قلوبهم الرعب "

